مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویگ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۶/۰۲

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
### (اته شپیتمه برخه)

### محمد یوسف

د غوایي له پاځون وروسته د کورنیو چارو د وزارت د سیاسي چارو د ریاست رئیس.

### انجنیر محـمـد ظریف

د کندهار والي. د ننګرهار والي. په ۱۹۷۹ز کال کې د مخابراتو وزیر. د سیاسي بیرو غړی. د ۱۹۸۰ز کال د جون د میاشتې په ۱۴ نېټې اعدام سو.

### محمد ذوالفقار

په ۱۸۹۸ز کال کې زېږېدلی دئ. د حبیبیې له لیسې څخه فارغ سوی دئ. د هغو محصلینو د چارو مسؤول وو چې افغان حکومت فرانسې ته د تحصیل لپاره استول. د امان الله خان د مشر زوی هدایت الله ولي / قیم. په ۱۹۲۹ز کال کې له نادر خان او شاه ولي خان سره د حبیب الله کلکاني پر ضد یو ځای سو. په ۱۹۲۹ز کال کې د صدراعظم محمد هاشم خصوصي منشي. په ۱۹۳۱ز کال کې په لندن کې د افغان سفارتې استازیتوب [1] قنسل. په ۱۹۳۲ز کال کې د صدراعظم یاور. په ۱۹۳۷ز کال کې د عامې روغتیا د وزیر یاور. په ۱۹۳۸ز کال کې د باندنیو چارو په وزارت کې د سیاسي چارو مدیر. په ۱۹۳۹ز کال کې په توکیو کې سفیر. د ۱۹۶۰ز لسیزې په اوږدو کې وفات سوی دئ. وادهٔ ئې کړی چې دوه زامن او یوه لور لري.

### انجنیر جمعه محمد محمدي

په ۱۹۳۷ز کال کې په پکتیا کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۱ز کال کې د کابل پوهنتون د انجنیرۍ له پوهنځي څخه د لیسانس په درجې فارغ سوی دئ. په ۱۹۶۵ز کال کې ئې د کولیریډو له پوهنتون څخه خپله ماسټري په هایدرولیک انجنیرینګ کې اخیستې ده. په ۱۹۶۱ز کال کې د کرنې او اوبو لګولو په وزارت کې د خاورو او اوبو د ریاست رئیس. په ۱۹۷۲ز کال کې د کرنې او اوبو لګولو د وزارت مرستیال وزیر. په ۱۹۷۳ز کال کې د اوبو لګولو عمومي رئیس. په ۱۹۷۶ز

[1] -Legation


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کال کې د صدارت عظمی؟ د اوبو او برېښنا وزير. د ۱۹۷۸ز کال د مې له مياشتې نيولې د ۱۹۷۸ز کال د اکتوبر تر مياشتې پورې ‌د داؤود د کابينې له نورو غړو سره‌ د پلچرخي په زندان کې زنداني. اوس د امريکا په متحده ايالاتو کې ژوند کوي. مورنۍ ژبه ئې پښتو ده.

## مولوي محمد نبي محمدي

د حاجي عبدالوهاب زوی، په ۱۹۲۱ز کال کې په لوګر کې زېږېدلی دئ. تر ۱۹۴۶ز کال پورې ئې د لوګر په مدرسو کې زده کړې کړي دي. په ۱۹۴۶ز کال کې ئې په لوګر کې د عباس په نوم يوۀ کلي کې تدريس کړی دئ؛ په ۱۹۵۲ز کال کې په ميمنې کې وو؛ دوه کاله په جوزجان کې وو. په ۱۹۵۴ز کال کې مکې مکرمې ته د حج لپاره لاړ. بېرته د عباس کلي ته راغی او له همدې ځايه ئې د هېواد په بېلا بېلو برخو کې د کمونيزم پر ضد تبليغات پيل کړل. په ۱۹۵۸ز کال کې بېرته جوزجان ته لاړ – له خلقي اخبار څخه ئې نقل کاوۀ- او پر کمونيزم ئې بريد کاوۀ. د يو شمېر پيروانو کړۍ ئې په ځان پسې راکاږلې وه. محمد نبي سيمه ييز چارواکي متقاعد کړل چې کمونيستانو د افغانستان په تعليمي سيستم کې نفوذ کړی دئ او د کابل له حکومت څخه د اقداماتو غوښتونکی سو. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۷ز کال پورې لوګر ته راستون سو او دلته ئې هم خپلو فعاليتونو ته دوام ورکړ. په ۱۹۶۳ز کال کې د ولسي جرګې استازی. د ولسي جرګې د ښي لاس د فرکسيون غړی. په ۱۹۷۳ز کال کې هلمند او کندهار ته لاړ تر څو مولويان وهڅوي چې د ولسي جرګې د غړيتوب لپاره ځانونه کانديد کړي. د داؤود له کودتا وروسته کابل ته راوغوښتل سو او دريو ورځو لپاره د کورنيو چارو په وزارت کې تر تحقيق لاندې وو او له هغۀ وروسته بېرته آزاد سو. په ۱۹۷۴ز کال کې د هلمند مارجې ته لاړ او هلته ئې په يوې کلا کې يوه مدرسه پرانيستله. کله چې مارکسيستان واک ته ورسېدل محمد نبي محمدي د پاکستان کوېټې ته وتښتېد. په کوېټې کې ئې د ۳۰ تر ۴۰ تنو مولويانو يوه ډله جوړه کړه او بيا پېښور ته لاړل چې توپک وپېري. محمدي، حکمتيار له پخوا پېژاندۀ او حکمتيار هم په پېښور کې وو. د رباني او حکمتيار ځواکونو يوه غونډه جوړه کړله او محمدي ئې د خپلو ګډو ځواکونو د امير په توګه وټاکۀ او په پای کې محمدي دا دريځ قبول کړ. په دې توګه د „حرکت انقلاب اسلامي افغانستان" [2] بنسټ کېښېښودل سو. صبغت الله مجددي له دنمارک څخه راغی او خپله ډله ئې جوړه کړه؛ له حرکت څخه د رباني او حکميتار په وتلو، حرکت ډړې وړې سو. د ۱۳۵۸ل کال د لړم د مياشتې په ۶ نېټې ‌د ۱۹۷۹ز کال د نوامبر د مياشتې په ۲۷ نېټې‌ د جهاد اعلان وسو. مجددي د اعتماد پر بنسټ د „درۀ آخور" [3] د وسلو په مارکيټ کې وسلې وپېرودلې. نوموړي په „ميران شاه" [4] کې د وزير او د مسعود د قبيلې ملاتړ تر لاسه کړ او په هېواد کې دننه د کوچي جنګياليو په مټ ئې وسله وال فعاليتونه پيل کړل. ناچمتووالي تر دوه وو کلونو پورې دوام وکړ خو له هغۀ وروسته ځواکونو په ښو وسلو سمبال سول او برياوی ئې تر لاسه کړې. اوس د حرکت انقلاب اسلامي افغانستان مشر دئ او حرکت انقلاب اسلامي افغانستان د پېښور مېشتو مجاهدينو د ډلو په منځ کې يوه عمده ډله ده. په ۱۹۸۱ز کال کې د مجددي او ګيلاني له اتحاد سره يو ځای سو.

---

[2] - Harakat-i-Enqelab-i-Islami-i- Afghanistan
[3] -Dara-i-Akhor weapons bazaar
[4] -Miranshah


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

## ډاکټر غلام صدیق محـبـي

په ۱۹۳۱ز کال کي په غزني کي زېږېدلی دئ. د کابل په دارالمعلمینو کي شامل سوی دئ؛ بیا د کابل پوهنتون د ساینس له پوهنځي د لیسانس په درجي فارغ سوی او وروسته ئـي خپله دکتورا په هستوي فزیک کي له مسکو څخه تر لاسه کړې ده. په منځنویو ښوونځیو کي ښوونکی. د فزیک پوهاند. د کابل د پولیتخنیک د انستیتیوت مرستیال رئیس. د کابل د پولیتخنیک د انستیتیوت رئیس. د کابل پوهنتون د اداري ریاست مرستیال رئیس. په ۱۹۷۴ز کال کي د کابل پوهنتون رئیس. له ۱۹۷۶ تر ۱۹۷۸ز کال پوري د لوړو زده کړو د وزارت وزیر. سره له دې چي د داؤود په حکومت کي ئـي خدمت کړی وو، بیا هم زنداني نـهٔ سو. مورنی ژبه ئـي پښـتو ده. په روسي هم خبرې کوي.

## مـحـمـد یاسین محسني

په ۱۹۲۷ز کال کي په کابل کي په یوې سوداګرې کورنی کي زېږېدلی دئ. دیپلومات سو. له ۱۹۵۸ تر ۱۹۶۱ز کال پورې په واشنګټن ډي. سي. کي په افغان سفارت کي مقرر سو. د ۱۹۷۳ز کال له کودتا وروسته ئـي کومه دنده نـهٔ درلوده. په ۱۹۷۹ز کال کي د باندنیو چارو په وزارت کي د کلتوري اړیکو مدیر. په اسلام آباد او توکیو کي مقرر سو او له همدې ځایه په ۱۹۸۳ز کال کي آسترالیا ته لاړ.

## سید آصف محسني

د کندهار یو شیعه دئ. د «حرکت اسلامي» مشر دئ. په ۱۹۸۰ز کال کي په ایران کي د شیعه افغانانو د اتحاد د رئـیس په توګه وټاکل سو. کویټې ته کډه سو.

## دیپلوم انجنیر عبدالحمید محتاط

په ۱۹۴۴ز کال کي په پنجشیر کي زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۴ز کال کي له حربي ښوونځي څخه فارغ سوی دئ او وروسته د لوړو زده کړو لپاره شوروي اتحاد ته لاړ چي د انجنیرۍ په رشته کي تحصیل وکړي. په ۱۹۶۹ز کال کي فارغ او کابل ته راستون سو او په اردو کي ئـي په کار پیل وکړ.د ۱۹۷۳ز کال په کودتا کي ئـي فعالیت وکړ او د مخابراتو د وزیر په توګه مقرر سو. په همدې کال له کابیني څخه د مارکسیستي لید لوري په کړس کي اخراج سو. د غوایي له پاڅون وروسته د ۱۹۷۸ز کال د جون په میاشت کي توکیو کي د سفیر په توګه وګومارل سو. وادهٔ ئـي کړی دئ او دوه زامن لري. مورنی ژبه ئـي دري ده. نوموړی په روسي او څه ناڅه انګلیسي ژبو خبرې کولی سي.

## فضل احمد مجددي

د هرات د «جغرتان»[5] حضـرت صاحب مجددي. د عبدالوهاب زوی او د «سرهند د پیرانو»[6] له کورنۍ څخه د حضـرت محـمد عمر جان آغا لمسی چي وروسته مجددي سو. په ۱۸۹۲ز کال کي د فارس په ختیځ کي په «بخرز»[7] کي زېږېدلی دئ چي پلار ئـي همدلته تبعید سوی وو. دا کورنۍ په ۱۹۰۲ز کال کي بـېرته افغانستان ته راستنه سو. په دیني چارو

5 -Jaghartan of Herat
6 -Sirhind Pirs
7 -Bakharz East of Persia


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

کي د کفایت وړ قاضي ګڼل سوی وو. په ۱۹۳۰ز کال کي ئـي د نور المشایخ، مجددي له لور سره وادۀ وکړ. په ۱۹۲۹ز کال کي کله چي نادر خان پر سلطنت جلوس وکړ، دۀ ور سره ولیدل او د حضرت شیر آغا مجددي پر ځای د عدلیي د وزارت مرستیال وزیر وګومارل سو. د نادر شاه له وژل کېـدلو وروسته ئـي کندهار ته سفر وکړ تر څو محمد ظاهر شاه ته د خلکو بیعت واخلي. په ۱۹۳۳ز کال کي د عدلیي د وزیر په توګه وګومارل سو. په ۱۹۳۴ز کال کي د فارس د زور آباد د پـېښـي په تړاو د پلټني لپاره د پاړسو – افغان د ګډ کمیسیون غړی وګومارل سو. کورنـی ئـي د هرات د ولس په منځ کي نفوذ لري. د سنا رئـیس. په ۱۹۶۱ز کال کي وفات سو.

**نور بیا**

## فضل محمد مجددي

شمس المشایخ، همدا شان د شاه آغا په نوم هم شهرت لري د...

قدرمنو لوستونکو! د ښاغلي رحمت آریا د آرشیف: لینک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ